// افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد    بدين بوم و بر زنده يک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهيم    از آن به که کشور به دشمن دهيم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|

د افغانستان د زيارکښانو ټولنيز انجمن
۰۶ جولای ۲۰۱۳

# د افغانستان جګړه،
# د لوټمارانو په ګټه او د زيارکښانو په ضد جګړه ده

جګړه له ځان سره بدمرغی او ناخوالی لري، په تيره بيا چي جګړه د بهرنيو ظالمو ستمګرو په ګټه وي او دښمن هم فرضي ټاکل شوی وي. په افغانستان کي وضعيت همداسی دی. له يوی خوا بهرني ستمګر جګړه کوي. يعنی خلک وژني، کورونه يي خرابوي، درمندونه او باغونه يي سوځي او ځوانان د زندانونو شا ته اچوي او له بلې خوا يي ځان ته فرضي دښمن هم ټاکل چي ورته طالبان وايي.

د افغانستان زيارکښه ولس اوس په ښه توګه پوهيږي چي روانه په وينو لړې جګړه د څه اهدافو لپاره مخې ته ځي. اوس د افغانستان خلک پوهيږي چي څنګه د امريکا د پيشو او موږک د لوبي ښکار او قربانيان دي. طالبان، د امريکا فرضي دښمنان دي، هغه دښمنان چي د امريکا په يوې ټټکی سره يي په قطر کي خپل بيرغ او لوحه ليرې کړه.

خو، په دې خونړۍ جګړې که دواړه غاړه د زيارکښانو دښمنان دي. څرنګه چي وويل شول امريکاييان او د هغه نور غربي وسله وال ملګري او کورني ياران يي خواري کښه ولس په يوه پلمه او بله پلمه وژني او همدا دی چي د هر کال په تيريدو سره د ولسي وګړو مرګ ژوبله مخ په زياتيدو ده. طالبان هم، زيارکښان وژني، شکنجه کوي او د عشر او زکات په نامه ترې محصول ټولوي.

د لوګر ازره ولسوالی پنځه مياشتي کيږي چي د طالبانو لخوا کلابنده ده. په دې پنځو مياشتو کي هيڅوک نشي کولای خوراکي مواد او دوا او درمل خلکو ته ورسوي. همدا محاصره او کلابندي باعث شوی ده چي خلک د ولږی له فاجعي او ناورين سره مخ شي. په وروستيو رپوټونه کي راغلي چي په دغه ولسوالی کي د ولږې له امله تر اوسه پوري دوه ميرمني او پنځه ماشومان مړه شوي دي.

دا يو لوي جنايت دی. دا جنايت د زيارکښانو او خواري کښو انسانانو په وړاندې تر سره کيږي. نن افغانستان د خوارکښو او بيوزلو انسانانو په وړاندې د جنايت په ډګر بدل شوی دی. يوازې د زيارکښانو پيوستون کولای شي دا وطن د زيارکښانو په وطن بدل کړي او رنګارنګو جنايتونو ته د پای ټکی کيږدي.

د سرطان ۱۴ مه ۱۳۹۲